## پر معروف امر او له منکر څخه نهی د مسلمانانو د پیاوړتیا کیلي ده

بسم الله الرحمن الرحیم

په حقیقت کې د هر ستر امر تر شاه یو رمز شته چې هغه ته لکه روح غونديې په بدن کې ژوند او وړتیا ورکوي، چې روح یې د ژوند، پیاوړتیا او خوبښې کیلي ده. بدن له روح پرته خپل ارزښت له لاسه ورکوي او په یو وچ او بې روحه کالبوت یا جسد بدلېږي چې نور باید خښ شي. په اسلامي امت کې ځینې رازونه ژوند ښښونکي دي چې غوره امت ترې جوړوي. دغه ستر رازونه او رمزونه د الله سبحانه وتعالی کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت دي. امام مسلم په خپل صحیح کې له جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«تَركتُ فِيكُم مَا لَن تَضِلُّوا بَعدَهُ إِن اعتَصَمتُم بِهِ كِتَابَ الله»**

***ژباړه:*** *تاسو ته مې یو څه پرېښودل چې که منګولې پرې ولګوئ، هېڅګله نه ګمراه کېږئ او هغه د الله سبحانه وتعالی کتاب دی.*

حاکم دغه حدیث له ابن عباس رضی الله عنه څخه داسې روایت کړی دی:

**«يَاأَيُّهَاالنَّاسُ إِنِّى قَدتَركتُ فِيكُم مَا لَن تَضِلُّوا بَعدَهُ إِن اعتَصَمتُم بِهِ كِتَابَ الله»**

***ژباړه:*** *اې خلکو! په حقیقت کې ما تاسو ته یو څه پرېښودل چې که منګولې پرې ولګوئ، هېڅکله نه ګمراه کېږئ او هغه د الله سبحانه وتعالی کتاب دی.*

بل رمز په معروف امر او له منکر څخه نهی ده چې الله سبحانه وتعالی داسې فرمایلي دي:

**﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ﴾ [آل عمران: ١١٠]**

***ژباړه:*** *«اې مومنانو!» تاسو تر ټولو غوره امت یاست چې د خلکو د ګټې لپاره پیدا شوي یئ، کله چې په معروف امر او له منکر څخه نهی کوئ او په الله سبحانه وتعالی ایمان لرئ.*

الله سبحانه وتعالی دغه رازونه هغه وخت د اسلامي امت لپاره د ژوند او قوت تر لاسه کولو سرچینه کړل چې له همدغو رازونو سره ژوند وکړي. الله سبحانه وتعالی د دغو رازونو د غوښتونو عملي کولو ته هڅولي یو او د حقونو په ادا کولو کې یې له افراط او تفریط څخه منع کړي یو؛ لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُولُوا بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِى الْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْ وَ اتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا مَا أُتْرِفُوا فِيهِ وَ كَانُوا مُجْرِمِينَ﴾ [هود: ١١٦]**

***ژباړه:*** *نو ولې په تېرو قومونو کې د عقل او ایمان څښتنان نه وو چې په ځمکه کې د فساد مخه ونیسي؟ دغسې خلک که راپیدا هم شول، ډېر لږ وو چې موږ وژغورل. هغوی چې ظلم یې کاوه، په دنیوي خوندونو او نعمتونو پسې ولاړل او فاسق خلک وو.*

امام طبري د ژغورل شویو کسانو په اړه وایي: «هغوی گنهگاران له گناهونو او کافران له کفر څخه راگرځول.» همدارنگه الله سبحانه وتعالی له بنی اسراییلو کفارو څخه د کرکې دلیل له منکر څخه د هغوی دډه نه کول یاد کړي او داسې یې فرمایلي دي:

**﴿لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ * كَانُوا لا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ﴾ [مائده: 78- 79]**

***ژباړه:*** *هغو بنـي اسراییلو چې کفر غوره کړ، د داوود او د مریم د زوی عیسی پر ژبه پر هغوی لعنت وویل شو. دا د دې لپاره وو چې هغوی (د الله متعال له فرمان څخه) پرلپسې سرغړونه او (په ظلم او فساد کې) له حده تېری کاوه. هغوی به د ناوړه اعمالو له ترسره کولو لاس نه اخیست او یو بل یې له ناوړه کارونو څخه نه منع کول او نصیحت یې نه ورته کاوه او څومره ناوړه کارونه یې ترسره کول (ځکه حرام کارونه یې کول او یوې ډلې چوپتیا غوره کوله او په دې سره ټول په جرم کې شریکېدل).*

په پورتني ایت کې له منکر څخه د نهی ډېر ستر راز ښکاره شوی دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه حدیث کې چې ابو داوود او ترمذي له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت کړی، ټینگار کړی او داسې یې فرمایلي دي:

«**إِنَّ أَوَّلَ مَا دخَلَ النَّقْصُ عَلَى بَنِي إِسْرائِيلَ أَنَّه كَانَ الرَّجُلُ يَلْقَى الرَّجُلَ فَيَقُولُ: يَا هَذَا اتَّق اللَّه وَدعْ مَا تَصْنَعُ فَإِنَّهُ لاَ يَحلُّ لَكَ، ثُم يَلْقَاهُ مِن الْغَد وَهُو عَلَى حاله، فَلا يمْنَعُه ذلك أَنْ يكُونَ أَكِيلَهُ وشَرِيبَهُ وَقعِيدَهُ، فَلَمَّا فَعَلُوا ذَلكَ ضَرَبَ اللَّه قُلُوبَ بَعْضِهِمْ ببَعْضٍ" ثُمَّ قَالَ: ﴿لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ (78) كَانُوا لا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ(79) تَرَى كَثِيراً مِنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنْفُسُهُمْ﴾ إِلَى قوله ﴿فَاسِقُونَ﴾} [مائده: 78-81]**»

**ژباړه:** *لومړنی عیب چې په اسراییلو کې راښکاره شو، هغه دا و چې کله به یو سړي بل د گناه په حالت کې لیده، ورته ویل یې: دا څه دي؟ له الله سبحانه وتعالی څخه وډار شه او دغه عمل نور پرېږده؛ ځکه دغه کار ناروا دی. بل ورځ به یې چې هغه په همغه حالت کې لیده، (یعنې د هغه په اړه دومره جدي نه و) او په خوراک، څښاک او کېناستلو کې به ورسره مل و. کله بې چې همداسې وکړل، الله سبحانه وتعالی د هغوی زړونه د نورو*

*غونډې کړل. وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم د مائده سورت له ۷۸ څخه تر ۸۱ پورې ایتونو تلاوت کړل او ویې فرمایل:*

**«کَلاَّ، وَاللَّه لَتَأْمُرُنَّ بالْمعْرُوفِ، وَلَتَنْهوُنَّ عَن الْمُنْكَر، ولَتَأْخُذُنَّ عَلَى يَدِ الظَّالِم، ولَتَأْطِرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْراً، ولَتقْصُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ قَصْرا»**

**ژباړه:** *هېڅکله داسې نه ده، پر الله سبحانه وتعالی قسم چې حتماً به په معروف امر او له منکر څخه نهی کوئ. حتماً به له ظلم څخه د ظالم مخنیوی کوئ، هغه به حق ته راګرځوئ او د حق منلو ته به یې اړ کوئ!*

د امر په معروف او له منکر څخه د نهی تر ټولو مهمه غوښتنه له ظلم څخه د ظالم مخنیوی دی او له هغه حاکم څخه به بل سخت ظالم چېرته وي، چې په بما انزل الله حکم نه کوي؟ څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿وَ مَن لَم يَحكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّٰلِمُونَ﴾ [مائده: 45]**

**ژباړه:** *څوک چې په بما انزل الله حکم ونه کړي، هغوی ظالمان دي.*

پر معروف امر او له منکر څخه نهی د دعا د قبلېدو کیلي او هغه رسۍ ده چې الله سبحانه وتعالی ته پرې رسېږو. له حذیفه بن الیمان رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«وَالَّذِي نَفسِي بِيَدِه، لَتَأْمُرُنَّ بِالمَعرُوف، وَلَتَنهَوُنَّ عَنِ المُنْكَر؛ أَو لَيُوشِكَنَّ الله أَن يَبْعَثَ عَلَيكُم عِقَاباً مِنْ عِندِه، ثُمَّ لَتَدعُنَّهُ فَلاَ يَستَجِيبُ لَكُم»**

**ژباړه:** *قسم په هغه ذات چې روح مې د هغه په لاس کې دی، حتماً به په معروف امر او له منکر څخه نهی کوئ، یا دا وېره شته چې الله سبحانه وتعالی به پر تاسو عذاب راولي او هغه وخت به د عذاب لېرې کېدو لپاره له الله سبحانه وتعالی څخه مرسته وغواړئ، خو دعا به مو قبوله نه کړي.*

له ابو هریره رضی الله عنه څخه پورتنی حدیث داسې روایت شوی دی:

**«لَتَأْمُرُنَّ بِالمَعرُوف، وَلَتَنهَوُنَّ عَنِ المُنْكَر، أَو لَيُسَلِّطَنَّ اللهُ عَلَيكُم شِرَارَكُم فَيَدعُو خِيَارُكُم فَلاَ يُستَجَابُ لَهُم»**

**ژباړه:** *حتماً به په معروف امر او له منکر څخه نهی کوئ، یا به الله تعالی ستاسو تر ټولو بد پر تاسو واکمن کړي او وروسته به ستاسو تر ټولو غوره کسان د ژغورلو لپاره دعا وکړي، خو دعا به یې قبولې نه شي.*

رسول الله صلی الله علیه وسلم تېنګار کړی چې له منکر څخه نهی تر ټولو مهمه کیلي او راز دی، هغه یې د ټولو مسلمانانو مکلفیت وباله او دا د هغه حدیث محتوا ده چې امام مسلم له ابو سعید خدري رضی الله عنه څخه روایت کړې ده. هغه وویل چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې واورېدل چې ویې فرمایل:

**«مَن رَأی مِنكُم مُنكَرا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ ، فإن لَم يَستَطِعْ فبِلِسانِهِ ، فإن لَم يَستَطِعْ فبِقَلبِهِ و ذلكَ أضعَفُ الإيمانِ»**

**ژباړه:** *له تاسو څخه هره یوه چې منکر ولیدل، باید پخپلو لاسونو هغه ته تغیر ورکړي! که یې ونه شو کولی، باید په ژبه یې تغیر کړي (اعتراض وکړي) او بیا یې که ونه شو کولی، په زړه کې دې انکار ترې وکړي او دا د ایمان تر ټولو کمزوری حالت دی.*

د دغه حدیث په لوستلو او لیدلو سره نور هېڅ داسې څه نه پاتې کېږي چې که یو څوک منکر ویني او پر وړاندې یې همداسې چوپ پاتې شي. نو که مسلمان وس درلود، په لاس یې دې تغیر کړي او که یې وس نه و، په ژبه یې دې تغیر کړي او که یې دا هم نه شو کولی، په زړه کې یې دې بد وګڼي، په داسې بڼه چې د انکار نښې پکې ښکاره شي.

لنډه دا چې له منکر څخه نهی تر ټولو ستر راز او د مسلمانانو د پیاوړتیا کیلي ده چې په وسیله یې شریعت اظهار کېږي، د الله سبحانه وتعالی حکم پلی کېږي او د اسلامي امت هیبت په نورو ملتونو کې ساتل کېږي. همدارنګه له منکر څخه انکار د دې سبب کېږي چې منکر په نطفه کې شنډ شي او د مسلمانانو شاوخوا له منکرو او چټلیو څخه پاکه شي. په دې سره د الله سبحانه وتعالی د طاعت تر چتر لاندې ژوند پیل شي او په پایله کې د دې لامل کېږي چې د الله سبحانه وتعالی په لاره کې د جهاد په وسیله اسلام د نړۍ ټولو برخو ته ورسېږي.

**الرایه جریده: ۴۲۷**

**لیکوال: شیخ عصام عمیره – بیت المقدس**

**۲۰۲۳م، د فبروري ۱٦مه**

**ژباړن: بهیر «ویاړ»**